# د ټورنټو عامې روغتیا اداره

# د تماس تعقیب کې مؤقت بدلون

ټورنټو کې د کوویډ-19 د لوړ شمېر پېښو له امله، د ټورنټو عامې روغتیا ادارې (TPH) په مؤقت ډول د تماس د تعقیبولو طریقه بدله کړې ده. مونږ زمونږ د هڅو تمرکز د تر ټولو لوړ خطر په وضعیتونو کوو. ددې معنا هغه خلک دي چې کوویډ-۱۹ لري او د چا په دې مرض ککړتیا چې نورو ته تر ټولو زیات خطر رامینځته کوي.

**د اوسمهال لپاره به TPH د هغو خلکو سره تماس نیسي په چا کې چې کوویډ-19 تشخیص شوی وي تر څو:**

- د هغوی د کوویډ-19 د لابراتوار د معاینې مثبتې نتیجې ورته تصدیق کړي.
- علامې یې وارزوي او معلوم کړي چې کله پیل شوې وې.
- تصدیق کړي چې په حفاظت سره د خپل ځان د منزوي کولو توان لري که یا یې د ټورنټو د انزاو داوطلب مرکز ته مراجعه کړي.
- لارښوونې ورکړي چې د خپل لوړ خطر تماسونو ته څرنګه خبر ورکولی شي.

TPH د هغو خلکو نه چې کوویډ-19 پکې تشخیص شوی وي غوښتنه کوي چې د هغو کسانو شمېر معلوم کړي کومو سره چې یې د علامو د پیل کېدو نه مخکې 14 ورځو کې نږدې تماس شوی و. هر هغه څوک نږدې تماس دی چې د کورنۍ برخه یې نه وي او په هره داخلي ټولنیزه غونډه یا بیروبار والا داخلي ځای کې یې ورسره له 15 دقیقو زیات وخت تېر کړی وي. دا معلومات به TPH سره مرسته وکړي چې هغه خلک معلوم کړي کومو چې 10 یا زیات د لوړ خطر والا تماسونه لرل تر څو د تماس د مدیریت او تعقیبي تماس په لړ کې مرسته وکړي. TPH به همداراز په دې اړه د معلوماتو غونډولو لپاره د یوې آنلاین سروی څخه استفاده وکړي چې خلک په دې مرض څنګه ککړ شوي تر څو زمونږ ښار کې د کوویډ-19 د خورېدو په کمولو کې مرسته وشي. TPH په روغتونونو، د اوږدمهاله پاملرنې کورونو، تقاعدي کورونو، د سرپناه مرکزونو، ښوونځیو او د ماشومانو د پاملرنې مرکزونو کې ددې وبا د رامینځته کېدو په اړه څېړنې او اقدام ته ادامه ورکوي.

کله چې ټورنټو کې د کوویډ-19 د پېښو شمېر بېرته د مدیریت وړ کچې ته راغی، نو TPH به د تماس د تعقیب خپلې د معمول والا پروسې بېرته عملي کړي.

نومبر 19، 2020